مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۳/۰۴/۲۵

# له لومړنیوزده کړونه بې برخې،

# د لوړوزده کړو وزیر

دا پورتنی سرلیک مې ناخاپي نه دی لیکلی. تردې لیکنې وړاندې مې دشیخ ندیم ویناګانې له ویډیو ګانو اوریدلي اوپه رسنیو کې لوستلې دي .دلیدلو اولوستلو نه وروسته دې پایلې ته ورسیدم چې دښاغلي ملا هبت اله دلوړوزده کړو وزیردلومړنیودیني، عقلي اواخلاقي ز ده کړو نه هم بې برخې دی. شیخ ندیم په خپله خوځله ویلي دي چې تمدن ورته ارزښت نه لري.ربښتیا داده چې علم دتمدن بنسټ دی اومخالف لوری یې ظلمت اوبربریت دی. څوک چې تمدن ته ارزښت نه ورکوي، ظلمت اوبربریت خوښوې، نودحیرانتیا ځای نه دی چې دعلم مقام مباح ته راټیټوي اوحتا تردې چې زده کړه اوښوونه «عیاشۍ اوفحاشۍ » ګڼي اوځان ورنه ساتي. دلته دبیلګې په توګه دشیخ ندیم دیوې وینا دالاندې پړوکی رانقلوم اودا ټوله لیکنه مې په همدې پړوکي راڅرخوم. دی وایي چې:

« دغه امان الله خان...اروپا ته لاړ او په کافرانورا وګرځیده او له هغې خواته یې دا فورموله راوړه :ښځې ولې په کورکې ناستې دي، ښځې ولې مکتبو ته نه ځي او دغه دعیاشۍ اوفحاشۍ نخسه یې راوړه، غوښتل یې چې په افغانستا کې یې عملي کړي. دغه قدرمن عالمان ورته ودریدل چې دا موږ نه درسره منو، داداسلام سره ټکر دی، دادافغانیت سره ټکر دی، دا زموږ دغیرت سره ټکر دی.»
دندیم دپورتنیوځرګندونو په خلاف دهیوادوتلي تاریخ پوهان راښیي چې غازي امان اله خان یو مسلمان، هیواد پال، په ولس مهربان او په خپلواکۍ مین پاچا و .دافغان اولس ډیرلوی اکثریت تراوسه په هغه ویاړي، درناوی یې کوي اودهیواد په تاریخ کې ورته دملي اتل اوغازي پاچا په سترګه ګوري. شیخ صاحب دې ډاډه اوسه، هغه څوک چې دغازي امان اله خان سپکاوی کوي، هغه به هرومرو دځان په ضد دولس کرکه اوغوسه را پاروي .دې پاچا نه یوازې دانګلیسي ښکیلاک نه دهیواد دخپلواکۍ بریالۍ لارښونه وکړه بلکې په دې لټه کې هم و چې دا دملت په مټ تر لاسه شوې ازادي دیوځودقدرت په نیلي سپرواشخاصواودهغوی په کورنیومحدوده پاتې نه شي بلکې ټول ولس ترې برخمن شي. هغه څه چې غازي امان اله خان په دې برخوکې ترسره کړلي دي ټول په دې لیکنه کې نه ځائیږي، خودومره باید ووایم چې دهیواد له پاره یې لومړی اساسي قانون چې په هغه وخت کې یې «نظامنامه » بلله جوړاونافذ کړاورپسې یې دبیلابیلو دولتي ارګانونواوادارو له پاره هم قوانین وضع کړل. په دې قوانینو کې ددرباریانواونورودولتي اوغیردولتي زورواکانوامتیازونه لغوشول .دبلابیلودولتي ارګانونواو مقامونودندې، صلاحیتونه اومکلفیتونه تعریف شول، په بیګارونو بندیز ولګید، دزیارایستونکوبزګرانو، مالدارانو اوکسبګرانو په اوږودمالیاتوغیرعادلانه درانده پیټي سپک اودوګړوحقوق بیان شول. په دې توګه په هیواد کې دټولنیزعدالت اوفردي ازادۍ په مخ لارپرانستل شوه اویو ټولنیزاوحقوقي نظام مخ په جوړیدو شو .داقتصاد پرمختګ اودغریبۍ اوبې وزلۍ نه دولس ازادول دغازي امان اله خان بل لوی ارمان واو په دې هم ښه پوهیده چې دې مرام ته درسیدو له پاره کارپوهانو، ماهرو کسبګرانواو په ټول هیواد کې دعلم خپرولوته اړتیا لري، نوپه هیواد کې یې دښوونیز نظام په جوړولولاس پورې کړ .دعلم زده کړې ته یې په نراو ښځه دالهي فرض، دخپلواکۍ دساتلو، پرمختګ، پردیو ته داړتیا نه، دبې وزلۍ اوبې وسۍ نه دځان ساتلو دبنسټیزعامل په سترګ کتل. دا شهزاده امان اله خان و چې ددرباري واده نه تیرشو دخپل واده لګښتونه یې اقل حد ته راټیټ کړل او په سپمول شوو پیسو یې دخپل هیواد اولاد له پاره یو ښوونځی جوړکړ .د« امان افغان »په نوم جریده کې مې چې، شاه امان اله خان دحکومت په زمانه کې خپریده، ولوستل چې پاچا یوه ورځ هغه زلمیان ځان ته را وبلل چې دلوړو زده کړو له پاره یې بهرنیو هیوادوته لیږل اوپه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

خپله ویناکې یې ټولې هغه طبعي زیرمې نوم په نوم ورته په ګوته کړې چې په دې هیواد کې پیدا کیدې اوتینګار یې وکړچې موږ ته خدای ( ج ) یوشتمن هیواد راکړی دی خو موږ یې دطبیعې شتمنیو نه دګټې اخیستوفني اوتخنیکي وس نه لرو، نوتاسې دهغوی د زده کړولپاره بهرنیو هیوادو ته لیږم .کله چې بریالي بیرته راوګرځی، نوکه زه ژوندی وم هریو به موپه غیږ کې ونیسم او دبریالیتوب مبارکي به درته ووایم او که مړوم نوزما قبر ته به راځی اوپه واروار به هر یو راته وایی چې کوم علوم اوکسبونه موزده کړي دي .
داواقعیتونه ښیي چې په هیواد کې دعلم دزده کړې اوخپرولو له پاره د شاه امان اله دهلو ځلو سرچینه دخدای ( ج )، وطن اوولس په وړاندې دمسئولیت پیژنده اوژوراحساس واو په دې برخه کې دشیخ ندیم دا څرګندونې چې ګوندې:« دغه امان الله خان.....اروپا ته لاړ او په کافرانورا وګرځیده او له هغې خواته یې دا فورموله راوړه :ښځې ولې په کورکې ناستې دي، ښځې ولې مکتبو ته نه ځي او دغه دعیاشۍ اوفحاشۍ نخسه یې راوړه، غوښتل یې چې په افغانستا کې یې عملي کړي «.ښیي چې دطالبي شیخانودلوړو زده کړووزیردخبل هیوادپه هکله دلومړنیوزده کړواو مالوماتو نه هم بې برخې دی. حضرت امام حسین ( ض ) فرمایلي دي چې »:بی عقله شخص بې ادبه وي، بې همته شخص ناکام اوبې دینه شخص بې حیاوي «.په خوابښینۍ سره باید ووایم چې دشیخ ندیم په دې خبروکې دعقل، پوهې او داسلامي اخلاقو، دشرم او حیا، نښې او نښانې نه لیدل کیږي .دشیخ ندیم وینا ګانې په ډاګه کوي چې دې ښاغلي دخپل هیواد دوروستي سل کلن تاریخ په هکله دکوم کتاب یومخ هم نه دی لوستلی او داسې یوشخص چې په عامه مجلسونوکې په ښکاره دعلم، تمدن اوپرمختګ نه کرکه څرګندوي، پوهه اومعرفت به له کومه کړي. حقیقت دادی چې غازي امان اله مخکې له دې چې داروپا ته په سفر روان شي په تعلیمي ریفورم اودښوونځیو په جوړولولاس پورې کړی واوحتی هغه وخت چې لا پاچا نه و، دیوه شهزاده په توګه یې دورسره امکاناتو نه په هیوادکې دپوهنې دخپرولو په لارکې کاراخیست، ښه بیلګه یې دخپل واده دلګښتونوکمول اوپه سپمول شوو پیسو دښوونځي جوړول و. دوهم داچې که امان اله خان په خپل هیواد کې داروپایانو » فورموله » عملي کوله، نوبیایې ولې انګریزان له له خپل هیواده شړل .اروپایانوخوپه افغانستان اوټوله اسلامي نړۍ کې دپوهنې دخپریدومخه نیوله اوداستا په شان شیخان - مقصد مې ټول دیني عالمان نه دي – نوځکه بیا وایم چې دا ستا په شان شیخان بې د ښوونځیو جوړولواودعلم دخپرولو په خلاف را پارول .دعلم دزده کړې سره مخالفت اسلامي ریښه او بنسټ نه لري، په حقیقت کې دهیواد دپرمختګ په وړاندې داستعماري دسیسوپاتې شونې ده چې نن یې ستا په شان شیخان ددین اودنیانه دبې خبرتیا په عالم کې دسراومغز په زورنه، بلکې دمټواوسوټکو په زورعملي کوي .دریم داچې شیخ صاحب، غازي امانالله خان نه یوازې په دین، ولس اوهیوادمین بادشاه و، بلکې دکاراوزیارسره یې هم مینه درلوده. ده په هیواد کې ددیني اوعقلي علوموزده کړې کړې وې، استادان اومشاوران یې زموږ په هیواد کې وتلي پوهان وو. دی دخپل هیواد په ټولنیزاواقتصادي حالت پوهیده .
دامان اله دپاچاهۍ په زمانه کې دافغانستان ښارونه په حقیقت کې ښارونه، نه بلکې ښار ګوټي ول، دوګړو ډیره زیاته برخه ( څه ناڅه نوي سلنه ) په کلیواوبانډوکې اوسیدل اویوه دپام وړبرخه هم کوچیان ول چې تلل اوراتلل .ددوی ډیره لویه برخه په کرنه اودژویو په روزنه لګیا وه .داقتصادي سکټورپه دې برخه کې ښځې په کورونو اوغژدیوکې نه ناستې وې اونه ناستې دي، دکور نه دباندې، په کار لګیاوې او لا لګیا دي .دکوچیانو میرمنې داولادونوروزنه اودکورنوره چارې هم سرته رسوي اودکیږدیو نه دباندې په نورو کارونوکې هم فعاله ونډه اخلي. افغاني میرمنې په کلیو کې داولاد په روزنه اودکورپه نوروچاروسربیره له لرې پرتو چینو اوګودرونو په سرپه منګیواودیګونوکې اوبه راوړي، په دښتو، غرونواورغونوکې خس اوبوټې راټولوي او دسونګ له پاره یې کورته راوړي .پټیوته سره اوتخم رسوي اوله پټیودژویوله پاره واښه راوړي، په کرنه، نال، لالون، ریبنه اودرمندکولو کې دسړیو سره برابره ونډه اخلي اوغنم اوجوارداوړو کولو له پاره ژرندوته وړي. لنډه داچې دځنې طالبي شیخانونه غیرچې په هیواد اوحتی په خپله سیمه کې دټولنیز ژون درازنه هیڅ خبرنه دي او نه دې خبرتیا ته کومه اړتیااحساسویي، بل هرانسان په دې پوهیږي چې که په کارکې دښځو ونده نه وای اونه وي، ژوند په ټپه دریده اودریږي .دامان اله دحکومت نه وړاندې اودهغه دحکومت په وخت کې افغاني میرمنې له سره په کورنه وې ناستې بلکې کره ورځ په کاراوکسب پسې له کوره وتلې .نوځکه غازي امان اله دې ته اړنه و چې افغانې میرمنې له کورونوراوباسي او په کارونو یې لګیا کړي.
دا دامان اله خان اودبل هرپوه او په ولس مین افغان ارمان واو دی چې افغاني جونه په ښوونځي کې، دجونو په ټولګي کې دښځینه ښوونکۍ نه دزده کړو له لارې له دې سختواو ملا ماتوونکو چارو نه ازادې شي، مسلکې کسبون، علوم اوفنون زده کړي. له دې لارې له یوې خوادالله تعلی رضا حاصلیږی، ځکه دعالم زده کړه فرض ده او یوفرض ادا کیږي اوله بلې خوا دهیواد دښځینه جنس سخت جسمي کارونه مسلکي کسبونو، پوهنې اوهنرونو ته وچتیږي، دژوند په بلابیلوبرخوکې مسلکي کدرونه اوکارپوهانې تري جوړیږي، ژوند یې سوکاله کیږي، هیواد موشتمن کیږي، دلوږې، خوارۍ اوبې وسۍ نه ازادیږي، داسې خواکمن کیږي چې بیا څوک ورته په بده سترګه کتلی نه شي او دعلم پالونکو په هیوادونوهیڅوک تیری کولی نه شي .خوداد خوابښینۍ اولویې بد بختۍ ځای دی چې ځنې طالبي شیخان، دهغوی په منځ کې مشهورشیخ ندیم، دشیخانو دلوړوزده کړووزیر، ددین اودخپل هیواد په هکله له دې لومړنیومالوماتونه له سره بې برخې دی او په دې هم نه پوهیږي چې دعلم زده کړه په هرمسلمان فرض ده اودحضرت عثمان( ض ) په قول »:تر ټولو خوار کسب هم دلاس غځولو( خیرات غوښتلو ) نه ډیرفضیلت لري». له دې امله

دزده کړې ځای دفرض داداکولوياني دعبادت ځای دی اودکارځای دسرلوړی اوفضيلت ځای دی. شيخه، زده کړه، کاراوزيارعياشي اوفحشا نه ده، ښوونځي، پوهنځي، دفترونه اودکارنورځايونه فاحشه خانې نه دي. افغاني جونه او ميرمنې چې دزده کړواودخپلې کورنۍ دژوند دتأمين له پاره په کار پسې له کورونو راوتلې اوياراوزي عياشې فاحشې نه وې اونه دي، هغه مسلمانې، سرلوړې او باناموسه افغانانې اوپاک لمنې فرښتې وې اودي .بې شميره پوهنيزې څېړنې ثابتوي چې عياشي اوفحاشي دکاراوزيارنه بلکې دبيکارۍاووزګارتيا زيږنده دي .
شيخ نديم زياتوي چې دامان اله خان د دې سياست په وړاندې:« دغه قدرمن عالمان ورته ودريدل چې دا موږ نه درسره منو، داداسلام سره ټکر دی، دادافغانيت سره ټکر دی، دا زموږ دغيرت سره ټکر دی .«ګمان نه کوم چې دطالبانو دلوړو زده کړو وزيربه دخپل ژوند تر پايه پورې په دې حقيقت پوه شي چې دعلم او تمدن سره ټکرداسلام سره تکر دی اوجهالت له سره افغانيت اوافغاني غيرت نه دی. څوک چې په صداقت ځان مسلمان بولي نودجهالت په ضد به مبارزه کوي ياني علم به زده کوي اوخپروي اوڅوک چې په افغاني غيرت ولاړوي نو دابوعلي سينا، خوشال ختک، سيد جماالدين اونورو وياړلوافغاني پوهانوپه لاربه ځي. غازي امان اله خپل هيواد، افغانستان، نه يوازې دانګريزانونه ازادکړبلکې دپوهې، ابادۍ اوپرمختګ په لوريې هم روان کړ .دده ترمشرۍ لاندې افغانستان نه يوازې ازادشوبلکې دترقۍ اوځواکمنۍ په لورهم روان شو .دافغاني غازيانوپه وړاندې دانګريزدنړيوالې امپراتورۍ ماتې دهغې په سياسي اونظامي وړتياباندې دنړيوالوباورزيانمن کړاوترسلطې لاندې هيوادونوکې يې په ځان باوراودخپلواکۍ غوښتنې احساس ځواکمن کړ .سربيرهپردې ازادافغانستان دهندوستان دازادې غوښتونکې غورځنګ مرسته هم کوله نودې ټولودشاه امان اله خان په وړاندې دانګريزانوژوره کينه راوپاروله .دهيوا څه ناڅه ټول تاريخپوهان، چې ځنې يې په هغه وخت کې دپيښوعيني شاهدان هم وو، په يوه خوله ليکي چې انګريزانود پاچا په ضد دسيسې جوړولې، مخالفان يې بغاوت ته هڅول، وسلې او پيسې يې ورکولې .دشاه امان اله په ضد بغاوتونه پيل شول چې مشري يې بالاخره دانګريزانويوه انډيوال، مشهورغله اولوټمارحبيب اله « بچه سقاو » ته ورسيده .بچه سقاود ډيروغلاووااولوټماريواوبيا دپاچا هۍ ترنيولو وروسته ځان ته د « خادم دين رسول الله » لقب ورکړه. د سقاوزوی چې په ليک اولوست اوپه دين دنيا کې دپوهې اودزده کړه په ارزښت له سره نه پوهيده دهيواد دځوان نسل په مخ يې دټولوښوونځيودروازې وتړلې اوپه ګرد هيواد کې يې ښوونې اوزده کړې منع کړلې. په دې توګه ظلمت اوبربريت په علم اومعرفت لنډ مهاله بري ته ورسيد چې بقاياوې يې دشيخ نديم په شان دمعرفت سره وران ځنې طالبي شيخان دي. حقيقت دادی چې داشيخان دښوونواوزده کړوپه برخه کې دغازي امان اله مخالف اودبچه سقاو په لاررروان دي .دشيخ نديم په شان شيخان په ظلمت کې بند پاتې دي، دپوهې اوتمدن سره لفظي اوعملي دښمنی وهي او په دې نه پوهيږي چې په معرفت دظلمت برى لنډمهاله وي اوپه وړاندې يې بالاخره ماتې کوي. که طالبان داوږدمهاله امارت خيال په سرکې ګرځوې، نوله ظلمته به راوزي، له علم اومعرفت سره به ځان پخلاکوي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ